مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

هاجره حرکت

۲۰۲۱/۱۲/۰۶

# هیله لا ژوندۍ ده

هغه د وینـو سـیلابونو، پـه اورونـو کې ونه سـوزیده

د خونـړي ښامار له خولې د سره لال لاس ته راوړلو هیله

د زړه په تل کې توکیدلې ښنه زرغونه بیرته بیا رادرومي

وخت ته په پام سره راوبه ګرزي پورته او رنګینه به شي

اوس کـه له درده مـو پر زړونـو لړیتـوب راغلـی

باور خـو دا دی چـې، «اوبـه کـله پـه ډانـګ بـیلـیږي»

وخت تیـرېدل به مو تیپي ـ تیپي زړګي ته د ملهم پټۍ شي

دا بـه جوتـه شـي پردي ځاې کې خواخوږي نه شتـه

د محبت ډکې سپیڅلې او خوږې سـترګې بـه وغړیږي

نوبیا به وګورو چې:

هیـواد لـه لـوړو غـرو به سـیل د غرڅنیـو تـاو شـي

او د انسان احساس بـه خپـل هغه شاندار مقام تـه ورسیږي

هله په کـور او کلي، ښار به د ژوند نـوي ولـولـې راشـي

سترګـې به پرانیـزو، رنـګونـو او خیالـونـو کـې بـیا

د جنتي وطن هوا به راته وسپړي په سوي بڼ کې سره ګلونه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ